# ملګری ضیاء د افغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند صدر نه فنا کیدونکی دی!

د افغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند مرکزی کمیټه په ډیرغم او خپګان او ژور خواشینی او درد سره د ګوند ټولو غړو اوهوادارانو ته، دافغانستان ټولو ما ئوئیستانو ته، د نړی د هیوادونو ما ئوئیست سازمانونو او ګوندونوته اودنړیوال کمونیستی غورځنګ ته اعلان کوی چی ملګری ضیاء دافغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند صدراو ددی ګوند یوله بنسټ ایښودونکو اوپوه مشرد زړه دسکتی له کبله دهغه د ژغورولو اورغید لو د هرډول هڅو سربیره د۶۸ کلنی په عمرژوند له لاسه ورکړ.

دملګری ضیاء مړینه زموږ ګوند ته، د هیواد پرولتاریاوو، خلګو اوملیتونوته او نړیوال پرولتاریا اود سیمی دهیوادونو انقلابی خلګو او نړیوال کمونیستی غورځنګ ته یوه ستره او جبیره نه کیدونکی ضایعه ده.

دا ستره ضایعه په یقین سره زموږ دګوند دغړواو دهیواد دټولوما ئوئیستانواوخلګو دژور خپګان اوخواشینی لامل شی. دافغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند مرکزی کمیټه د ګوند ټوله ملګری دی ته رابولی چی خپل غم او خپګان په مبارزاتی ځواک بدل کړی، دګوند یووالی اوپیوستون په ټینګه وساتو او لکه پخوا دمرکزی کمیټی پر ګرد چاپیر اوږه په اوږه یوموټی پاتی شو.

د ملګری ضیاء ژوند دانقلابی ژمنتوب او وخلکوته دخدمت کولونه پریمانه ډک ؤو. ده د خپل ځوانی په لمړیودکی دسلطنتی له کاره لویدلي کورنی په وړاندی مبارزه پیل کړاو د ۱۳۵۷ لمړیزکال د غوایی ۷ نیټی کرغیړنه کودتا او په هغه پسی د ۱۳۵۸ لمریز کال د مرغومی ۶ نیټی روسی سوسیال امپریالیستی ځواکونو پر افغانستان بربنډ یرغل او د هیواد اشغال په وړاندی خپل نظامی- سیاسی او ملی- ډیموکراتیک فعالیتونه پرمخ یو وړل.

ملګری ضیاء د ۱۳۶۶ هـ ش (۱۹۸۷ م) کال په نیما ئی کی "دافغانستان دانقلابی کمونیستانو هسته" بنسټ کیښود. له دوو کلو فعالیتونو وروسته "د افغانستان انقلابی کمونیستانو سازمان" بنیاد جوړاو د مرکزی کمیټی د صدر په توګه یی سازمان رهبری کړ. ملګری ضیاء اود ده همرزمه ملګری د ډیرزیاراوتلاش په پایله کی په ۱۳۶۹ لمریز کال (۱۹۹۰م) دافغانستان کمونیست ګوند جوړاو د دی ګوند د مرکزی کمیټی له خوا د افغانستان کمونیست ګوند د صدرپه توګه وټا کل سو.

۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷ د امریکا اشغالګرامپریالیزم په مشری د امپریالیستی ځواکونو تر یرغل وروسته د افغانستان کمونیست ګوند دملګری ضیاء تر رهبری لاندی د بیړنی مبارزاتی اړینتیاپه درک سره یو ګام وړاندی کیښود، او د امریکا د امپریالیزم او امپریالیستی اشغالګرو په وړاندی د یوی اعلامیی په خپرولو سره دافغانستان د نورو مائوئیستانوسره د یووالی غوښتونکی شو. پدی وخت کی "دافغانستان دنجات لپاره دپیکار سازمان" او"د افغانستان د کارګرانوانقلابی یووالی" د افغانستان کمونیست ګوند دی وړاندیز ته مثبت ځواب ورکړ چی په پایله کی یی د درو یاد شوو تشکیلاتو تر منځ د افغانستان کمونیست ( مارکسیستی- لنینیستی-ما ئوئیستی ) غورځنګ دوحدت د پروسی منځ ته راتلل چی بلاځره د افغانستان کمونیستی

(مارکسیستی- لنینیستی- مائوئیستی) غورځنګ د وحدت د کنګری تشکیل اود افغانستان کمونیست"مائوئیست" ګوند تاءسیس او ملګری ضیاء درایوپه اتفاق سره د افغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند صدر وټاکل سو.

اوهمدا رنګه د۱۳۹۳ لمریز کال (۲۰۱۴ م) دافغانستان کمونیست"مائوئیست" ګوند په دویمی کنګری کی درایوپه اتفاق سره یوځل بیا د افغانستان کمونیست"مائوئیست" ګوند صدر وټاکل شو.

ملګری ضیاء په خپل ټول انقلابی حرفه ای ژوند کی، خپل د قدر وړ تجربی پرییښی، دځوان ملګرود ښودنی او د مارکسیستی- لنینیستی- مائوئیستی خط پرمحورباندی د ځلانده انقلاب دپیلیدود نخښو ځرنګوالی اود طبقاتی مبارزی په اوراوخپل ګردچاپیر تودو په ډیر نژدی اړیکوسره دځان ځلا ته ادامه ورکړ.

ملګری ضیاء زموږ د ټولوپه خاطره کی په ټولومبارزوکی ملګری، تل پاتی ملګری، نه ستړی کیدونکی ملګری، د مارکسیسم- لنینیسم- مائوئیسم پرخط ژمن ملګری چی هیڅکله یی د استثمارشوو اوستمکښانوسنګر پرینښود. نه فنا کیدونکی اوتل پاتی به وی.

ملګری ضیاء د انقلاب لپاره اود افغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند د ایدیولوژیک - سیاسی خط په ترسیم کی د قدر وړ خدمتونه کړیدی. هغه د ګوند ی بین المللی فعالیتونو په پرمخ وړلو کی، څه د انترناسونالیستی انقلابی غورځنګ د فعالیتونو په اړوند او څه دنورو هیوادونومشخص مائوئیست ګوندونوتر منځ اړیکو کی درابط په توګه ستره ونډه درلود..

د افغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند مرکزی کمیټه دا لویه ضایعه (دافغانستان کمونیست "مائوئیست" ګوند د مرکزی کمیټی صدر مړینه) د ګوند ټولو غړو او هوادارانو او د افغانستان او نړی ټولو مائوئیستانو ته تسلیت وایی، مونږ په ځانګړی توګه د ملګری د کورنی غړوته خپل ژور تسلیت وړاندی کوو او له هغوسره خپل ژورډاډګیرنه اعلانوو.

ملګری ضیاء د کمونیست "مائوئیست" ګوند د صدر په توګه نه یوازی د ملګری اکرم یاری انقلابی خط ته ادامه ورکړه بلکه له مخکی نه یی هم په متکا مل ډول پرمخ یووړ.

# هو ګرانو ملګرو:

د انقلاب کمپ، خپل افسانه یی ملګری له لاسه ورکړ او دا مونږ ټولو ته ستره ضایعه ده، ولی له نیکه مرغه هغه میراث چی ملګری ضیا ء د دی هیواد ځوان نسل ته پرییښی دی ، مونږ تل هیله، ځواک ،ټینګ عزم ریښتونی ژمنتوب، او د باوروړ واقعی کمونیست رهبر الګو مو په لاس راوړی دی.

ملګری ضیا مونږ ته ارزښناک میراث په ځای پریښود، داچه هیڅ کله د خپل اصولی مواضع نه لاس وانخلو او تل د خلګو او د کارګری طبقی په کتار کی ځای ونیسو او دخلګو په منځ کی لکه ماهی په اوبوکی و اوسو، اود اوسنی وضعی دننګونو دځرنګوالی ځان خبر او د اړتیا په وخت کی د اوضاع دښه کیدو په هڅه کی واوسو او دخپل ګوند په اصولو او ضوابطو کلک، استواره او پیاوړی پاتی سو.

د ملګری ضیاء ژوند په ریښتیا سره د نړی د پرولتاریاوو د انقلاب په خدمت کی ؤو اوپه هغه عصرکی چی امپریالیزم او ارتجاع په سیمه اونړۍ کی په ظالمانه اوبی لګامه یرغل لاس پوری کړی اوکوی، او د تورو تیارو او غم نه ډک عصراو ډیروتیارو روځو، د خلکود ملی ولسی او انقلابی مقاومت جګړی دشعار ږنګ د امپریالیستی اشغالګرو، لاسپوځی رژیم او مرتجع داعشی

اشغالگرو په وړاندی وړغاوه  او وه یی شوکولای چه د تیر نسل او راتلونکی نسل تر منځ پل جوړکړی او دیو ازمیلی  ښوونکی په توگه د انقلاب ځنی وپاشی او پدی لاره کی خپل مسئولیت په ښه ډول  سرته ورسوی.

**ملگری ضیاء زمونږ د گوند صدر، د بین المللی پرولتاریاوو مبارزو کی  به ژوند وکړی**

**ملگری ضیاء زمونږ د گوند صدر، د بین المللی پرولتاریاوو مبارزو کی تل پاتی وی**

**ملگری ضیاء زمونږ د گوند صدر، په ټوله معنی سره یو مائوئیست دی چه زمونږد طبقی په تاریخ کی به تلپاتی وی**

**ملگری ضیاء زمونږ د گوند صدر، زمونږ په منځ کی دی**

ټول گوندی واحدونه په هیواد کی دننه اودگوند هواداران له هیواد نه بهر  مکلف دی چه د راتلونکی لمریز یا میلادی میاشت تر پایه د خپل مشخصو شرایطو سره سم له ملگری یادونه وکړی

**ژوندی دی وی مارکسیسم – لنینیسم – مائوئیسم**

**ژوندی دی وی د افغانستان کمونیست "مائوئیست" ویا ړلی گوند**

**دوامداره دی وی دملگری ضیاء  د افغانستان کمونیست "مائوئیست" گوند د صدر لاره**

**دافغانستان کمونیست "مائوئیست" گوند مرکزی کمیټه**

**د 1399 لمریز کال د چنگاښ لمړی**

**د 2020 میلادی کال د جون 21**

www.sholajawid.org

sholajawid2@hotmail.com